# غزل،او د پښتو جدید غزل

د غزل په پېژندګلوۍ او تعریف کې پوهان سره یوه خوله نه دي ، هر یو خپل خپل تعریف او تعبیر ورکوي ، ځینې شعر پوهان د غزل پېژندګلوي په دوه ډوله کوي ، یو د معنی له مخې او بل د فورم له مخې ، د معنی په اړه یې ټول کره کتونکي په یوه خوله نه دي چې غزل ته ولې غزل وايي؟ او ولې دانوم ورکړل شوی ؟ ،خو د لاندې څو نظریو په وړاندې کولو کېدای شي چې د غزل وضاحت یو څه وشي .

1) د غزل لغوي معنی له ښځو سره خبرې کول او یا د ښځو په هکله خبرې کول دي.

2) د غزل لغات په اصل کې د تنکیو ،نازولو او ښکلو کیسو کولو ته وايي .

3) غزل ښځو ته مخاطب کېدل دي په عربي کې وايي : ( زیدا غزل من عمرو) یعنې زید له عمرو نه زیات عشق پالی دی یا زید عشقي مضامین له عمرو نه ښه تړي او یا دا چې ( رجل اغزل) یعنې پلانی عشق پالی یا د موسیقۍ مینه وال دی.

4) دا هم مشهوره ده چې غزل د اغزال څخه اخیستل شوی . شمس قیس رازي غزل د هوسۍ د خولې نه د سترړیا په وخت کې وتونکي اواز ته وايي.

5) دا هم ویل کیږي چې غزل د قصیدې هغه برخه وه په کوم کې به چې د ممدوح د ښایست او ښکلا ستاینه کېدله او یا به یې عشقي او رندانه اشعار پکې ویل ،نو په کار ده چې یوازې عشقي موضوعات پکې وځېړل شي، ځینې نور وايي چې غزل یو

ادبي صنف دی او لکه څنګه چې په نورو اصنافو کې د موضوع د تعین قید نشته همدارنګه مناسبه داده چې غزل دې هم د یوې خاصې موضوع پورې ونه تړل شي .

6) یوه نظریه دا هم ده چې غزل ته ځکه غزل ویل کیږي چې تغزل د مینې درد ، سوز وساز او ګداز لري ، له همدې کبله بې تغزله غزل ته غزل نشي ویل کېدی.

7) هغه کیفیت چې په مخاطب لوري اثر کوي او هغه د احساس او جذبې په حالت کې له ظاهري او نمایشي دنیا څخه بلې خوا وړي که مونږ پورتنیو څرګندونو ته پام وکړو ،نو واقعاً چې غزل د کیفیت نوم دی .